آصف بهاند

۲۰۱۶/۱۰/۱۹

# مات زړګی، د ویر لښتی

یو زړګی دی

منځ کې مات دی

دواړه ماتي برخي غړ باسي غريږي

د زړه راز کوي ژړيږي

آخر ورسيږي برید کرښي ته، پای ته

په خندا غاړه غړی شي

انګيري يې چې کوشير شوې

بیا چې ګوري ځان آینه کې

آینه په ژړا ژاړي ورته وايي:

چې تيتر کې مو یو داغ دی

ستاسو زړه هم د شیشي دی

او شیشه چې شي لړ ماته، بیا پترى شي

جوړ يې منځ د ویر لښتی شي

۲۰۱۴/۰۴/۰۸
هیدرسلیف،
ډنمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ